لیکوال: هاري                                                                                     واشنګټن ۱۲/۰۲/۲۰۰۹

# د "پولیټکل ساینس" د کتاب کره کتنه

څو ورځې پخوا، د سهار پر ټیک اتو بجو باندي ظهیر صاحب د چایو دګیلاس او یو کتاب سره دفتر ته راغلی. د کتاب عنوان "پولیټکل ساینس ته یوه کتنه" دی، او په متحده ایالاتوکي د سیاسي علومو څلورو لیکوالانو د امریکایي محصلینو لپاره یو تدریسي کتاب برابر کړی دی. "پولیټکل ساینس ته یوه کتنه" په ۱۹٤ مخونو کي، په ډېر ښه صحافت، ښاپسته فانټ، او تر ټولو مهمه په خورا سلیسي او پخې پښتو باندي د "علامه رشاد خپروندویه ټولنه-کندهار" په همت د ۲۰۰۸ په ډسمبرکي چاپ سوی دی.

د کتاب اصلي ټکی دا دی چي سیاست مهم دی. خلک باید د سیاست په مکانیزم باندي ځانونه پوه کړي، څکه د یو با شعوره ، ویښ ، او سیاسي ولس څخه سیاسي ټګان لیري ښوري او یا یي چندان ګوزاره نه کېږي. د کتاب هدف د سیاسي علومو سره د محصلینو او خلکو اشنا کول دي. خلکو ته دا ښودل دي چي ملي او بین المللي سیاسي جریاناتو او حوادثو ته توجه کول یو نیک او ضروري کار دی. هر انسان د یوه سیاسي نظام او سیستم لاندي ژوند کوي. په هر ځای کي حاکم او رعیت سته. په هر ملک کي سیاسي حاکمیت او قدرت د یوې خاصي ډلي یا ډلو په لاس کي دی. ټولي انساني ټولني به د ابد لپاره د سیاسي قدرت له سوال سره مخامخي وي. هغه ولسونه چي د خپل ژوندانه سیاسي عملیه په منطقي او ازاده توګه منظموي، هغه ولسونه ارام او باثباته سیاسي ژوند لري، او برعکس.

د پولیټکل ساینس مولفین لیکي: ټروریزم اوجنګ یو ځل بیا امریکایان سیاست ته متوجه کړه. امریکایان په عمومي توګه سیاستوال نه خوښوي. واشنګټن لټ، بېکاره، او فاسد ګڼي. خو د متحده ایالاتو د کانګرس قریب ۹۳ فیصده غړي بار بار انتخابېږي. امریکایان خپل محلي استازی او سناتوران ښه او پاک بولي، خو کانګرس په مجموع کي شډل، سکتوري، او فاسد ګڼي. امریکایان په کانګرس کي د احزابو تر مینځ له شخړو څخه ستړي او بېزاره دي. خو نن سبا له یوې خوا دوو مهمو جنګونو او بلخوا خرابو اقتصادي شرایطو امریکایي ځوانان او خلک بېرته سیاسي چارو ته راکش کړي دي. اوس، د زیاترو مشکلاتو کلي په واشنګټن او حکومت کي لټول کېږي. امریکایي محافظه کارانو پوره درې لسیزي د "کم حکومت" او "حکومت احمق" دی، تبلیغ کاوه، خو دم ګړی د اکثرو امریکایانو د امید سترګي واشنګټن ته دی. ستر بانکونه او کمپنی له حکومت څخه پرله پسي ببل اوټ، بسپني، او چاندي اخلي.

کتاب پر دیرلسو فصلونو باندي وېشل سوی دی، او په هر فصل کي د سیاست د علم اساسي مفاهیم او اصول بیان سوي دي. سیاست، دولت، حکومت، ولس، مشروعیت، طبقات، هویت، او په سلهاوو نور سیاسي مفاهیم او اصطلاحات تشریح او بیان سوي دي. کتاب په داسي وخت کي لیکل سوی دی چي د جهان د څو قطبي کېدو نښي او نښاني له څو کلونو راهیسي ورځ په ورځ راڅرګندېږي. چین، هند، اروپا، روسیه، جاپان، او جنوب شرقي اسیا د اقتصادي رقابت، تیکنالوژیکي کشفیاتو، او په علمي مرکزونو باندي بدل سوي دي. هلته په تولید، تجارت، او توزیع کي نوي نوي ابتکارونه کېږي. د جهان پانګه هلته ور روانه ده. دا ټول هغه چلنچونه دي چي امریکا ورسره مخامخه ده. امریکا نور په یوازي سر د ټولي دنیا بېساری سیاسي او اقتصادي طاقت ندی. شاوخوا نور لوی او واړه رقیبان را پیدا سوي دي.

زما سپارښت د افغانستان او پاکستان ټولو پښتني پوهنتونونو ته دا دی چي "پولیټکل ساینس" د سیاسي علومو په ټولو لمړیو صنفونو کي د لوست حتمي کتاب کړي څکه کتاب محصلین د سیاست د اکثرو ضروري مفاهیمو سره تر یو حده پوري اشنا کوي. پولیټکل ساینس ما ته د خپلي محصلی د دورې د لمړي کلونو کتابونه را په یاد کړل. مګر پدې اختلاف چي زما د محصلی په دوره کي امریکا نوې د یو قطبي جهان په سر کي یوازي او مغروره ولاړه وه. د کلنټن د دورې بېساري اقتصادي او تیکنالوژیکي پرمختګ امریکا د ځینو امریکایي لیکوالانو په قول د" امپراتورۍ په غرور" مبتلا کړې وه.

د کتاب یو بل ځانګړ ی خصوصیت ژبه او ترجمه ده. محمد صدیق ظهیر د نا اشنا، جعلي، او زمختو کلماتو تر کارولو د انګریزي ژبي منل سوي او بین المللي سیاسي اصطلاحات استعمال کړي دي. څکه په پښتو ژبه کي د عصري سیاسي


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

اصطلاحاتو کمی له روایه څرګند دی. پښتانه باید د نورو ژبو له لغاتو څخه ډار ونه لري، بلکي پر ځان اعتماد او ویسا پیدا کړي. یوه ژوندۍ ژبه وده کوي، نوي لغات خلقوي، پردي کلمې خپلوي،او زوږ او حرکت لري. په مقابل کې، یوه مړه ژبه کراره او سنګینه پر خپل ځای ولاړه وي او تل شټ ته ګوري. بلخوا، پخپله ژبه کي د خارجي لغاتو او کلماتو کارول یو هنري او ادبي کمال او ابتکار دی. نن ورځ، که چیری یو ولس او یا ژبه غواړي چي ژوندي پاتي سي باید د ګلوبلایزېشن د جریان سره د فرهنګونو، هنرو، لغاتو، مفاهیمو، او بالاخره د ژوندانه په ټولو برخو کي نړیوالتوب ومني. د نورو ټولنو او ژبو سره فرهنګي راکړه ورکړه د یوه فرهنګ، تاریخ، ولس، او ژبي پاېښت او پرمختګ تامینوي. په مقابل کي، شاتګ او ډار ذلت او خواري ده. دکیشپ په شان پخپل ځان ننوتل، او یا ځان پخپله کلا بند کول، د ژوندیو او فعالو خلکو کار ندی. ټول جهان، پرګنې، او اقتصادي چاري د ګلوبلاېزېشن په تک سپین او نامریي تار باندي تړلي دي. که تاسو غواړئ او که نه غواړئ ټول د نړیوالتوب په طلسم کي راګېر یاست. لنډه دا چي هېڅوک له دې خرڅ او تړاو څخه خلاصون نلري.

د سیاسي علومو لغات، اصطلاحات، مفاهیم، او عبارات په پښتو ترجمه کول اسانه او ساده خبره نده. د سیاسي علومو په ارتباط په پښتو ژبه کي خورا کم اثار ژباړل او یا لیکل سوي دي. د سیمي په مهمو ژبو کي ښایي یوازي پښتو وی چي د نورو ژبو په پرتله ډېره کمه ترجمه پکې سوې ده. د ژبي همدې کمي پښتانه دېته اړ ایستلي دي چي یا په نورو ژبو څه ولولي او یا بېخي مطالعه و نه کي. لنډه دا چي د لیکوال او مترجم تر ټولو مهمه دنده دا ده چي خپل خلک یې ولولی او په خبرو او مطلب یې پوه سي. هغه لیکوالان چي لوستونکي نلري ، هغوی یا پاګل وي، یا د ځان سره پرتي وایي، او یا له ډېره یوازیتوبه غمجن او غمدرون وي.

محمد صدیق ظهیر یو منور، دقیق، او ژور سړی دی. له همدې ترجمې څخه یې له ورایه ښکاري چي په ژباړه او لیکوالۍ کي پوره او پخه سابقه لري. د کندهار د ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ ښاري او صنفي ګرداوونو او سیاسي حلقو فعال او وتلی غړی وو. په ټکنده ځوانۍ کي د سیاسي جریاناتو، تمایلاتو، او د خپل وخت د ایدیولوژګانو سره اشنا او پېژندل سوی ځوان وو. هغه په طلوع افغان کي د کار او خدمت زړه سابقه او دوسیه لري. د کندهار سیاسي ګرداوونو عنعنو او ناستو لاړو د ظهیر صاحب په شان یو نسل کندهاري ځوانان ورزل چي نن ورځ د کندهار د روشني فکري جریاناتو څرک پکي لګول کېږي. په همدې پېښت کي، د ښاغلو معصوم هوتک، عبدالباري جهاني، نسیم سلیمي،عبدلرزاق پالوال، ظاهر افق، ډاکټر فاروق اعظم، تاج ایوبي، نصیر پښتون او داسي نورو په سلهاوو ورک او تیک او پرک منورین او لیکوالان شامل دي.

معصوم هوتک پر پولیټکل ساینس باندي پخپله سرېزه کي لیکي: ظهیر صاحب لمړی ځوان وو چي د کندهار په طلاع افغان کي یې د لمړی ځل لپاره غازي امان الله خان د استقلال د اعلان مشر وباله. دا کار په هغه وخت کي یو ډول سیاسي ماجراجویي وه، ځکه حکومت نه غوښتل چی امان الله غازي د خپلواکۍ ګټونکی او اتل یاد سی. زه به دلته په همدې اړه د جهاني صاحب یو نقل قول وکړم. هغه په یوه خصوصي بانډار کی را ته وویل: "موږ فکر کاوه چي په ظهیر صاحب پسې به ضرور پولیس راځي او توقیف ته به بې بیایي."

مګر ظهیر صاحب ورو ورو د خپل وخت او عصر د نورو ځوانانو په شان عالي تحصیلاتو ته مخه کړه او کیسه یې تر جاپان پوري ورسېدله. هلته یې د بند او نهرونو د جوړولو په اړه ډاکټري ترلاسه کړه او په ضمن کي یې د جاپان د تاریخ، فرهنګ، او اقتصادي انکشاف په اړه مطالعات کړیدي. دغه راز، په انګریزي ژبه کي هم د مطالعې، څېړونو، او ترجمو پوري لاسرسی لري. د ښاغلي صالح محمد صالح په قول: تر بدي لیکني ښه ترجمه ډېره ډېره ښه ده. او د ظهیر صاحب په قول: افغانانو لپاره د مستقلو او تخلیقی لیکنو فرصت لا برابر ندی ، نو بنا افغانان مجبوره دي چي یو پښت ژباړي وکي. موږ مجبوره چي د نورو خلکو تجربې او علمي پانګي په پښتو کوو. موږ اول ګام ندی اخیستی. پښتانه مجبوره دي چي ددې تریخ واقعیت و منلو ته غاړه کښېږدي. زه د ظهیر صاحب او صالح صاحب سره سل په سل کي موافق یم.

په خارج کي، د ټولو پښتنو لیکوالانو،منورینو، او متعهدفعالینو څخه هیله ده چي د خپل فکر او خیال په خوښه په مختلفو مختلفو ساحو کي پښتو ژبي ته د جهان د ټولو ژوندیو او غني ژبو څخه کتابونه په روانه او سلیسه ژبه ترجمه کي. راځئ چي د پښتو په رنسانس کي ترجمې ته تر بل هر څه لمړیتوب او اهمیت ورکوو. راځئ چي لدې لاري پښتو بډایه او سیاله کړو. راځئ چي په ګډه د یوه رنسانس په راوستلو کي برخه واخلو. راځئ چي پدې نېک او ملي کار کي فعاله


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

ونډه واخلو. که چیري پښتانه غواړي چي خپلي ژبي ته په رشتیا خدمت وکي، لمړی باید د نورو خلکو کړي علمونه په پښتو کړي. والسلام.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de